education above all | التعليم فوق الجميع

# په چارچاپېره نړۍ کې سفر

| | |
|---|---|
| **توضیحات** | په دغه پروژه کې، زده کوونکی به د نړۍ پو کوټ کوټ کې د سوداګرۍ او سفر د مفاهیمو پد پلټلو تر څنګ ړ هېوادونو ورته والي او توپیرونه زده کړي. |
| **مخکېنه پوښتنه** | تاسو د خوښې وړ لوبه په اصل کې د کوم ځای څخه ده؟ |
| **د اړتیا وړ بشپړ وخت** | ۴ ساعته او ۴ ورځې |
| **د اړتیا وړ توکي** | قلم، پنسل، کاغذ، بیاتي |
| **د زده کړې پایله** | • زده کوونکي به په نړۍ کې د بېلابېلو هېوادونو او قارو په اړه پوه تر لاسه کړي.<br>• زده کوونکی په د لېږد رالېږد د ګنو بنو او وسایلو په اړه زده کړه وکړي<br>• زده کوونکي به د ګنو توکو په اړه پوه شي چې موږ د نورو هېوادونو څخه څه زده کړي او منلي دي چې دا به هغوی له ډول ډول والي، زغم، مذهبي او دودیزو توپیرونو سره اشنا کړي.<br>• زده کوونکی به دا هم وڅیړي چې د دوو هېوادونو په پوله کې راکړه ورکړه څه ډول شوې او اوس څه ډول بدلون مومي؟<br>• د زده کوونکو انتقادی فکر، د نوي ځیز رامنځته کول (خلاقیت) او د اړیکې مهارتونو ته وده ورکول. |
| **تر پوښښ لاندې نیول شوې موضوع ګانې** | **د نړۍ هېوادونه**<br>• واټن<br>• اصلي لوري (اړخونه)<br>• د لېږ رالېږد ډول ډول بنې او وسلې<br>• په ټوله نړۍ کې مختلفې قارې<br>• ځمکه پېژندنه (اطلس) جوړول<br>• سوداګري<br>• په نړۍ کې د بېلابېلو هېوادونو بې ساري ځانګړتیاوې او موندنې<br>• د دودونو، مذهبونو او د ژوند د څو نورو برخو سرچینې<br>• نیوکه کوونکی فکر<br>• خلاقیت |

## لومړی ورځ

نن به تاسو دا زده کړئ چې زموږ نړۍ څومره راسره وصل ده او دا به ولټوي چې سفر او تجارت څنګه زموږ ژوند ته شکل ورکړی.

| وړانديز شوې موده: | کړنه او توضېحات |
|---|---|
| • **۵ دقیقي**<br>• دا ويوښتئ: | |
| | • آیا سفر کول مو خوښېږي؟ څومره هېوادونو، ښارونو، کليو ته مو سفر کړی دی یا مو يې په اړه اورېدلي او غواړئ چې سفر وکړئ؟ د ټولو هغه هېوادونو، ښارونو یا کليو نومونه وليکئ چې ليدنه مو ترې کړې او یا مو خوښېږي چې ترې ليدنه وکړئ. |

• ۵ دقیقي

• آیا پوهېږئ چې په نړۍ کې څومره هېوادونه دي؟ هغي ته اجازه ورکړئ چې فکر وکړي، بیا وواياست: ۱۹۵! آیا د تر ۱۹۵ پورې حساب کولی شئ؟ زده کوونکي به په یوه تشه ورقه باندې ۱۹۵ نقطې او یا کوم نور شکلونه رسم کړي ترڅو په هغه نقشه کې چې په لاندې ضمیمه کې ځای پر ځای شوي، هېوادونه په نښه کړئ.
همدا راز، که چېرته زده کوونکي وغواړي او یا هم ورته ممکنه وي، هغوی کولی شي چې د ایالتونو، ولایتونو، ښارونو او یا هم د کلو لپاره همدا فعالیت ترسره کړي.

• د لاندې جدول په کارولو سره، زده کوونکي کولی شي هرې شمېرې لپاره مکاني ارزښت معلوم کړي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | ۹ | ۱ | شمېره |
| | | | ځای |

- ۵ دقیقې
- ځینې هېوادونه، ښارونه او کلي له یو بل څخه لرې دي او ځینې نور ډېر لرې وي. آیا ځینې هېوادونه، ښارونه او کلي پېژنئ چې تاسو ته نږدې وي؟ د هغوی په اړه ښنګه چې له تاسو څخه ډېر لرې دي؟
- د هغه هېوادونو، ښارونو یا کلیو نومونه ولیکئ چې ستاسو څخه ډېر لرې او هم درته ډېر نږدې دي.

- ۱۰ دقیقې
- مختلفې لارې چې خلک له یو ځای څخه بل ځای ته ځي، کومې دي؟
- موږ په کومو مختلفو لارو سفر کوو؟
- تشریح یې کړئ چې موږ په دریو مختلفو لارو سفر کولی شو- د هوا، اوبو او ځمکې له لارې. له زده کوونکي څخه وغواړئ چې مثالونه د هغه کټګورۍ پر اساس طبقه بندي کړي چې لاندې راځي.

یو مثال یې لاندې درکول شوی دی:

| هوا | ځمکه | اوبه | د سفر طریقه |
|---|---|---|---|
| | | کېښتی | ۱ مثال |
| | | | ۲مثال |


- ۱۵ دقیقې

د ځینو هغه ځایونو په اړه فکری وکړه چې په وړاندنی فعالیت کې مو لیکلي دي (هغه ځایونه چې یا ډېر لنډ دي یا ډېر لرې) موږ ښنګه کولی شو دغو ځایونو ته سفر وکړو.۳ یا ۴ مختلفې لارې را وښیئ چې موږ د هغې طریقې نورو ایالتونو، کلیو، ښارونو یا هېوادونو ته سفر کولی شو. د هغه هېوادونو، کلیو او ښارونو څخه په استفادې چې تاسو مخکې ورته اشاره کړې.

| د لېږد طریقې | | | هېواد/ کلی/ ښار |
|---|---|---|---|
| ځمکه (مثال ټرېن یا ریل) | اوبه | هوا (مثال: الوتکه) | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | دلته د يو هېواد يا ځای نوم ور اضافه کړئ |
| | | | |

- **۱۵ دقيقې**
- راځئ چې دغه ځينې هېوادونو ته سفر وکړو. څه فکر کوئ زموږ سفر به دغه هېوادونو، ښارونو او کليو ته څومره وخت ونيسي. ستاسو په نظر کوم يو ته به مو سفر کول ډېر يا کم وخت ونيسي.
- د لاندې لارښونو په کارولو سره د کاغذ الوتکه جوړه کړئ يا يوه الوتکه رسم کړئ چې د سفر کولو لپاره ترې استفاده وکړي.



**سرچينه:** [https://www.pngitem.com/middle/mwmwhw_make-paper-airplane-step-by-step -hd-png/](https://www.pngitem.com/middle/mwmwhw_make-paper-airplane-step-by-step-hd-png/)

<table>
<tr><td>

- اوس د سفر وخت دی!
- په کوټه کې دوه ځایونه وټاکئ، یو ډېر لرې او بل هغه ته نږدې. هغه یو چې نږدې دی دا په ګوته کوي چې هغه هېواد، ښار او یا کلی تاسو ته نږدې دی او هغه یو چې له تاسو ډېر لرې دی په دې معنا چې هغه لرې دی.
- یو مشر وروړ یا خور او یا ټولګیوال ساعت ته په کتو سره او یا هم یوازې په لوړ غږ ثانیې حساب کولو سره به ځومره وخت ونیسي چې یو د دغه ځایونو ته الوتکه ورسېږي.
- پر کاغذي الوتکې مو دواړو ځایونو ته پرواز ورکړئ او تر څنګ یې منډه وکړئ او هغه بل کس دې مقصد ته دې رسېدو ثانیې ثبت کړي.

</td></tr>
<tr><td>

- له زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه: هر یو مقصد ته سفر کول ځومره وخت ونیو؟ آیا لنډ ځای ته دې سفر وخت به مو لږ وي او که ډېر؟ او هغه لرې ځای څنګه؟
- ستاسو په فکر ولې مختلفو منزلونو ته په سفر کولو کې د وخت توپیر شتون لري؟ ځواب: هر څومره چې واټن لرې وي، په همغه اندازه وخت ته هم اړتیا ده.

</td></tr>
<tr><td>

- ۱۰ دقیقې
- د شمېرې غزول:
- د هېواد د نوم تر څنګ د هغه ثانیو عدد ولیکئ چې سفر یې نیسي. د مرکز څخه کوم یو ډېر لرې دی (چېرته چې تاسو یئ یا ترې الوتنه کوئ)؟ د هغه بل مقصد څخه په کومه اندازه لرې دی؟ (اشاره: واټن منفي کړئ).
- الف هېواد له تاسو د اوسني موقعیت څخه ۱۲ ساعته لرې دی. که چېرته د دې پر ځای تاسو د هغه وخت په څلورمه برخه کې د ب مقصد (هېواد) ته سفر وکړئ نو تاسو به د اوسني موقعیت څخه د ب تر هېواده په څو ساعتونو کې ورسېږئ؟

</td></tr>
<tr><td>

**۱۰ دقیقې**

فکر: د لاندې پوښتنو په اړه فکر وکړئ:

- د نن ورځې د فعالیتونو څخه مو څه زده کړل؟
- د نن ورځې د فعالیتونو څخه کوم څیز ډېر په یاد لرئ؟

د څه په اړه تر اوسه هم ځینې پوښتنې لرئ؟

</td></tr>
</table>

| |
|---|
| د خپل ښوونکي یا والدینو څخه هغه پوښتنې وکړئ چې تاسو یې لاهم لرئ. |

**دوهمه ورځ**

نن به تاسو د مختلفو براعظمونو په اړه زده کړئ.

| وړاندیز شوې موده: | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| | • **۲۰ دقیقې**<br>• پرون موږ ځینې هېوادونو ته سفر وکړ. په نړۍ کې هر هېواد د یوې لویې سیمې برخه ده چې د براعظم په نوم یادېږي.<br>• آنلاین تحقیق وکړئ یا د لاندې لارښوونې پوښتنې په ګټه اخیستنې د خپلو والدینو او یا هم په ټولنه کې د کوم بل پوه کس څخه پوښتنه وکړئ.<br>• ستاسو هېواد په کوم براعظم کې واقع دی؟<br>د نړۍ مختلف هېوادونه کوم دي؟<br><br>ځوابونه:<br>• افریقا<br>• آسیا<br>• سویلي امریکا<br>• اروپا |
| | • شمالي امریکا<br>• انټارکټیکا<br>• اسټرالیا<br>• پر خپل اطلس له نن کار وکړئ. پر لومړۍ صفحه کې براعظمونه د الفبا پر اساس لېست کړئ. |

- **۲۵ دقیقې**

- په دوهم مخ کې د نړۍ نقشه رسم کړئ د هغې نقشې په اساس چې په ضمیمه کې ده او هر براعظم په نښه کړئ. که تاسو د مختلفو براعظمونو د پېژندلو توان نه لرئ نو د خپل مور او پلار یا بل پوه مشر څخه مرسته وغواړئ.


- راځئ فکر وکړو چې څه شي مختلف هېوادونه او ځایونه ځانګړي کوي؟ ولې زموږ د خپل هېواد دننه نورو ځایونو ته سفر کول خوښوو؟ د هغه شیانو لېست ولیکئ او یا یې رسم کړئ چې دوی نورو ځایونو ته په سفر کې ترې خوند اخلي (د مثال په ډول ځیني خاص خواړه، حیوانات او جاذبې لکه ساحلونه رسم کړئ یا ولیکئ.)
- هر هېواد یو څه لري چې هغه ځانګړی کوي. زده کوونکی به له خپل شاوخوا لویانو (یا انټرنېټ) څخه معلومه کړي چې لاندې هر هېواد په کوم براعظم کې موقعیت لري او هغه شیان چې دوی یې ځانګړي کړي.
- تانزانیا
- چین
- مکسیکو
- سعودي عربستان
- آسترالیا
- د مثال په توګه، چین د نړۍ د هر هېواد څخه ډېر سره زر جوړوي! تاسو کولی شئ د دې فعالیت لپاره لاندې جدول وکاروئ.

| هېواد | براعظم | هغه هېواد څه شي ځانګړی کوي |
|---|---|---|
| تنزانیا | | |
| چین | آسیا | تر ټولې نړۍ زیاته طلا جوړوي |
| مکسیکو هېواد | | |
| سعودی عربستان | | |
| آسترالیا | | |

- سربېره پر دې د خپله هېوادونو یو لېست په اړه فکر وکړئ یو یا دوه هغه شیان ولیکئ یا یې رسم کړئ چې یوازې په دغه هېوادونو کې موندل کیږي. د خپلې خوښې سره سم هېوادونه غوره کړئ د کوم په اړه چې تاسو معلوماتو ته لاسرسی لرئ.

- په بدیل سره، په یو هېواد تمرکز وکړئ د لاندې برخو په نظر کې نیولو سره د خپلې خوښې هېواد په اړه ډېر مفصل راپور بشپړ کړئ.
- د هېواد نوم (یا یې بیرغ رسم کړئ)
- په کوم براعظم کې دی
- اسعار یا پولي واحد
- مشهوره لوبه
- مشهور دودیز خواړه
- د دې هېواد په اړه یو په زړه پورې حقیقت

- **۲۰ دقيقې**
- د اطلس په درېيم مخ کې د نړۍ نقشه رسم کړئ او په نقشه کې ستاسو د لېست هېوادونه پيدا کړئ. دوی د مختلفو شکلونو يا سمبولونو په مرسته په نښه کړئ. هغه براعظمونه مه رسم کوئ چې د هېوادونو د لېست په جمله کې نشته.
- د پورته لېست شوي هېوادونو موقعيت پيدا کړئ.
- زده کوونکي به په ضميمه کې د نړۍ نقشه وګوري.
- د اصلي لوريو ( شمال، ختيځ، سويل او لوېديځ) په په کارولو سره په زده کوونکی د هېوادونو عمومي موقعيت پيدا کړي. پرمختللي زده کوونکي کولی شي نور ځانګړي لاربنووني لکه شمال ختيځ، سويل لويديز او نور وکاروي.




- زده کوونکي به په نقشه کې هېوادونه په نښه کړي.
- اشاره: تانزانيا د افريقا په ختيځ کې ده، چين د اسيا په ختيځ کې ده، مکسيکو د شمالي امريکا په سويلي سيمه کې ده، سعودي عربستان د آسيا په سويل لوېديځ کې (مستقيم د شمال ختيځ افريقا لوېديځ) او آسټراليا خپله براعظم دی چې د سويلي آسيا په جنوب کې موقعيت لري.

- **۱۰ دقيقې**
- اوس د عددونو يوه کرښه جوړه کړئ او هغه قطع کړئ تر څو تاسو د ۱ څخه تر ۲۰ پورې پټلی مستطيل شکل ولرئ. ډاډ تر لاسه کړئ چې د هرې شمېرې تر منځ فاصله مساوي وي. د خط کش يا بل کوم څيز په کارولو سره د عددونو تر مينځ مساوي فاصله رامنځ ته کړئ.




- د عددونو د کرښي څخه په کارولو سره د دغه هېوادونو تر منځ واټن پيدا کړئ. همدارنګه تاسو کولی شئ د عددونو منځ (مثلاً۶ عدد) هغه هېواد ته برابر کړي چې د نقشي په منځ کې وی. اوس دا پيدا کړئ چې څو قدمه راسته، کيڼ، پورته يا ښکته ته اړتيا ده چې نورو هېوادونو ته ورسېږو. د مثال په ډول که په تانزانيا يي کيږدو نو ۷ نورو قدمونو ته اړتيا ده چې چين ته ورسېږئ.
- نوټ: د عددونو د کرښي پر ځای تاسو خط کش هم کارولی شئ.

- **۱۰ دقيقې**
- د اتلس په څلورم مخ کې هغه جالب حقيقتونه ولیکئ چې د لېست شوو هېوادونو په اړه مو زده کړي. تاسو چې د هېوادونو هغه جدول چې تاسو وړاندې جوړ کړي دی ځانګړو شيانو په اضافه کولو سره ور اضافه کړي.

**۱۰ دقيقې**

فکر: د لاندې پوښتنو په اړه فکر وکړئ:

- د نن ورځې د فعاليتونوڅخه مو څه زده کړل؟
- د نن ورځې د فعاليت څخه مو نن څه ډېر په ياد پاتې دي؟
- تر اوسه د څه په اړه پوښتني لرئ؟


د مور، پلار يا ښوونکي څخه اضافي پوښتني وکړئ ترڅو تاسو ته ځواب درکړي.

دريمه ورځ

نن به تاسو دا زده کړئ چې هېوادونه په څه کې له يو بل سره شراکت لري!

| | |
|---|---|
| وړانديز شوې موده: | کړنه او توضيحات |

- **۱۰ دقیقې**
- څه فکر کوئ موږ د الوتکو څخه وړاندې هغه هېوادونو ته سفر کوو چې موږ یې پرون په اړه خبرې وکړې؟ یوه لاره یې کښتۍ وه په ځانګې توګه د هغه هېوادونو لپاره چې په اوبو له یو بل څخه جدا شوي وو.
- هغه هېوادونه چې یو بل ته نږدې وو او په اوبو نه وو سره جلا شوي، خلک هلته په پښو تلل او یا هم د حیواناتو په واسطه.
- یو کښتۍ رسم کړئ. تاسو کولی شئ د مرستې لپاره لاندې لارښود وکاروئ.




- **۲۰ دقیقې**
- کله چې تاسو نویو ځایونو ته سفر کوئ د خپلو تجربو په اړه فکر وکړئ. تاسو کولی شئ د لاندې پوښتنو څخه استفاده وکړئ.

- تاسو چې معمولاً نوي ځای ته سفر کوئ، څه پېښېږي؟
  - آیا تاسو نوي شیان پیدا کوئ یا د شیانو د ترسره کولو په نویو لارو پوهېږئ؟
  - په آخري ځل مو چې نوي ځای ته سفر وکړ د څه په اړه پوه شوئ؟
- کله چې خلک مختلفو هېوادونو ته سفر کوي، دوی د داسې شیانو په اړه پوهېږي چې دوی مخکې په خپل هېواد که نه دي لیدلي. نن ورځ موږ له ډېرو داسې ځیزونو څخه استفاده کوو چې له نورو هېوادونو څخه راغلي دي. د مثال په ډول کچالو د لومړي ځل لپاره انسانانو د په پیرو په نوم وکرل چې د سویلي امریکا کې دي. نن په ټوله نړۍ کې تر استفاده کیږي!

- د هغه نقشه څخه په کار اخیستلو سره چې تاسو جوړه کړې هغه براعظم پیدا کړئ چې پیرو په کې دی.
- فکر او ځواب: څه فکر کوئ کچالو څنګه موږ ته راورسېدل؟ دا په کښتۍ کې د کچالو د بارولو له لارې روښانه کړئ.
- سربېره پر دې، قهوه په اېتوپیا کې پیدا شوې چې په افریقا کې ده. آیا براعظم یې په نقشه کې پیدا کولی شئ؟ (یا هم، چای د چین څخه راغلی دی، آسیا. د چین براعظم په نقشه کې په ګوته کړئ). تفصیلي نقشه په ضمیمه کې وګورئ.

- **۱۵ دقیقې**
- د ۳-۵ پورې نور مثالونه پیدا کړئ. اشاره: زده کوونکي کولی شي چې لاندې څېزونه وپلټي چې له کومه راغلي.
- پرېنټ شوي کتابونه
- لیکنه
- او ورقه چېرته رامنځ ته شوې

**ځواب:** یونان، عراق او چین. دغه هېوادونه په نقشه کې پیدا کړئ.

- دا تشریح کړئ چې په تېر کې به چې خلکو نوو هېوادونو ته سفر کولو او داسې ځیزونه به یې پیدا کول چې مخکې به یې نه وو لیدلي، کور ته به یې راوړل. نن ورځ هېوادونه چې کوم شی په کور دننه نه لري، له هغه هېوادونو ځخه اخلي چې هلته ډېر پیدا کېږي.

په کور یا چاپېریال کې مو له ۵-۱۰ پورې داسې ځیزونه په نښه کړئ چې په نورو هېوادونو کې جوړ شوي او یا یې سرچینه اخیستې. د یو لوی کس یا انټرنېټ ځخه په مرسته دا وپلټئ چې دا ځیز د کوم ځای ځخه راغلی،




د دغه شي د لېبل پر اساس دا د چین ځخه را وارد شوی، چې په سویلي آسیا کې دی.

- په خپل اطلس کې د توکو اصلي هېوادونه په نښه کړئ. تاسو کولی شئ توکي په نقشه کې رسم کړئ، او همدارنګه د هغه هېواد مشهور محصول په ګوته کړئ.

---

- **۱۰ دقیقې**
- څه فکر کوئ دا توکي تر دې ځایه څنګه را رسېدلي؟ د نورو هېوادونو سره د تجارت له لارې. تجارت دې ته وایي چې یو څه د پیسو یا بل څه لپاره تبادله کېږي.
- خلک څنګه کولی شي چې د یو هېواد ځخه یو شی وپلوري پرته له دې چې هغه هېواد ته لومړی سفر وکړي؟ نن ورځ خلک څنګ په دې پوهېږي چې هېوادونه څه پلوري؟ کمپنۍ دا هغه خلکو ته څنګه رسوي چې اړتیا ورته لري؟

تاسو څه فکر کوئ چې زموږ هېواد د څه شي تجارت کوي؟ له بهر ځخه څه را واریدوي؟ او نورو هېوادونو ته څه صادروي؟

- **۱۰ دقيقې**
- عددي پراختيا:

ټول هغه هېوادونه په نقشه کې پیدا کړه چې په دوهمه ورځ دې په ګوته کړي وو (تقریباً په براعظم ی د یوې نقطې په توګه). د عددونو د هغه کرښه څخه په استفاده چې تاسو په دوهمه ورځ جوړه کړه د خپل هېواد څخه تر نورو هېوادونو پورې واټن پیدا کړئ. که چېرته نقشه نه وي درسره نو دې ته په کتو چې یو هېواد له بل څخه څومره لرې دی په مختلفو واټنونو کې نقطې کېږدئ ( د دې کار د سرته رسولو لپاره د یو مشر کس څخه مرسته وغواړئ. تاسو کولی شئ چې په ضمیمه کې د تفصیلي نقشې څخه کار واخلئ.

- بیا دا پیدا کړئ چې هر یوه نقطه له بلې څخه څومره لرې ده؟ د مثال په ډول، یو هېواد د کاغذ په پورتنی ښيې کونج کې د یوې نقطې په واسطه ښودل کېږي او بل په مرکز کې د دوی تر منځ واټن ممکن ۱۰ سانتي متره وي.

**۱۰ دقیقې**

فکر

- د نن ورځې د فعالیتونو څخه مو څه زده کړل؟
- د نن ورځې د فعالیتونو څخه مو څه زیات په یاد درځي؟

څلورمه ورځ

نن په تاسو خپل نړیوال نندارتون جوړ کړئ!

| وړاندیز شوې موده: | کړنه او توضیحات |
| --- | --- |

- **۱۰ دقیقې**
- ډېر داسې شیان شته چې موږ د نورو کلتورونو څخه را پور کړي. پرون مو د کور عادی توکو ته وکتل. راځئ چې نن د هغه نورو څیزونو په اړه فکر وکړو چې موږ له نورو هېوادونو را پور کړي:
- آیا تاسو کوم مذهب یا اخلاقي فلسفي څخه پیروي کوئ؟ له کوم ځای څخه را منځ ته شوې؟ مثال: پودیزم په هند کې پیدا شوی.
- ستاسو د خوښې سپورټ څه شی دی؟ د لومړي ځل لپاره په کوم هېواد کې اختراع او لوبېدلی؟ مثال فوټبال په انګلستان کې پیل شوی.
- ستاسو د خوښې خواړه څه دي. هغه یا د هغې اصلي عنصورونه لکه مصالح او نور له کوم ځای څخه سرچینه اخلي؟ مثال: پیزا په ایټالیا کې پیدا شوی.
- دغه پوښتنو ته د ځواب ورکولو لپاره د کورنی له غړو مرسته وغواړئ.

- **۵ دقیقې**
- اوس د یوې موضوع په اړه پریکړ وکړئ چې تاسو غواړئ نوره یې وپلټئ.

ځینې وړاندیزونه په لاندې ډول دي:
- کلمې او لغتونه د شعرونو، فولکلوریکي کیسې او نورې په ژبه کې کارول شوې ورځنی کلمې چې په مختلفو هېوادونو کې رامنځته شوې.
- خواړه او مصالحې
- موسیقي او د موسیقی وسایل
- سپورټونه
- دودونه ( مذهب، جشن، واده او نور

- **۱۵ دقیقې**
- ورسته له دې چې د یوې موضوع په اړه د پرېکړه وکړه، د هغه شیانو لیست ولیکئ یا رسم کړئ چې تاسو غواړئ په خپل اطلس کې یې شامل کړئ، او د هغې تر څنګ د هغه هېواد نوم ولیکئ چې سرچینه یې تر اخیستې.

| موضوع: سپورټونه | |
|---|---|
| توکي | اصلي هېواد |

| انګلنډ | فوټبال |
|---|---|
|  |  |
| | |

- بیا د ننداړتون د ترتیب په اړه پرېکړه وکړئ. وړاندیز شوي ترتیبونه:
- یو جدول چې د هېواد اصلي مختلف توکي په کې وي لکه په پورتني جدول کې.
- د فستیوال یا سپورت لوبغالي پوستر (په ټاکل شوي موضوع پورې تړلي) چې د اصلی هېواد نوم پرې لیکی وي.

ble

- **۳۰ دقیقې**
- خپل اطلس جوړ او ډیزاین کړئ او له خپلي کورنۍ سره یې شریک کړئ. هر څیز وړاندی کړئ او ووایئ چې د کوم ځای څخه راغلی.

- **۳۰ دقیقې**
- اختیاري: دا چې هېوادونه څه ډول تجارت کوي د لاندې لوبې په کولو سره یې وهڅوئ د هغه خوراکي توکو څخه استفاده وکړئ چې ننداړې ته مو وړاندې کړي او یا هم د داسې کارتونو په جوړولو سره چې مختلف خوراکي توکي پرې رسم شوي وي.
- اړین توکي او کارتونه: مالګه، غوړي، پنیر، کچالو، ډوډۍ، رومیان، چرګ
- د دې لوبې هدف دا دي چې هر یو د دغه خوړو په تیارولو سره لوړې نومرې تر لاسه کړئ. پیزا (۱۰) برګر، (۱۰ نمبره)، چیز پرایز ( ۵نومرې)

  د پیزا د جوړولو لپاره ۲ رومیانو، ۲ پنیر، یو مالګه او ۱ ډوډۍ ته اړتیا ده.
  د چیز پرایز د جوړولو لپاره تاسو ۲ کچالو، ۲ پاکټه غوړیو، یو پاکټ مالګه او یو پنیر ته اړتیا لرئ.
  د برګر د جوړولو لپاره تاسو دوه چرګان، دوه ډوډۍ، یو پاکټ غوړي، یو پنیر او مالګې ته اړتیا لرئ.
- لږ تر لږه د دریو لوبغاړو لپاره د دریو هېوادونو څخه دا ټول توکي برابر کړئ.

- توکي مختلفو هېوادونو ته اختصاص کړئ. د مثال په توګه، هغه لوبغاړي چې له مکسیکو څخه استازیتوب کوي مالګه، تېل او ډوډۍ ورکړئ. کمبوډیا ته چرګ، رومیان او پنیر ورکړئ.
- کله چې هېوادونو (لوبغاړو) ته مساوي توکي ورکړل شول، نو لوبه پیل کېږي او دوی کولی شي چې په خپل توکو تجارت وکړي.
- هغه لوبغاړی (هېواد) چې ټول عناصر تر لاسه کړي او خواړه پاخه کړي لوبه ګټي. که چیرته د یو لوبغاړي (هېواد) څخه زیات لوبغاړي د خپلو خوړو لپاره ټول توکي تر لاسه کړي، هغه لوبغاړی چې تر ټولو زیات نومرې یې اخیستي وي، ګټونکی دی.

هر توکي ته ورکړل شوې نومره سره جمع کړئ تر څو د خوړو ټولې نومرې معلومې شي.

| | |
|---|---|
| تجارتي فعالیت ته نظر اچونه | ۱۰ دقیقې |

- هېوادونه له دې خاطره یو د بل سره تجارت کوي، ځکه هېڅ هېواد هم ټولې هغه منابع نه لري چې په خپله پرمختګ وکړي. ځیني هېوادونه په طبیعي ډول د منابع له لحاظه ډېر شتمن دي لکه غوړي، طلا، ځانګړې مېوې، سبزي او داسې نور. نو دوی یې په هغه هېوادونو پلوري چې اړتیا ورته لري. دوی بیا په مقابل کې هر هغه توکي اخلي چې خپله یې نه شي جوړولی.
- دا په منابع پورې تړلي ده، د ځینو هېوادونو لپاره دا ارزانه ده چې د نورو هېوادونو څخه چمتو شوي محصولات واخلي نسبت دې ته چې خپله یې جوړ کړي.
- څه فکر کوئ چې زموږ هېواد په نورو هېوادونو څه پلوري؟ او څه ترې پېري؟

**۱۰ دقیقې**

د پروژې عمومي انعکاس

د ۱-۲-۳ تخنیکونو څخه په استفاده، فکر وکړئ چې په دغه آخري څلورو ورځو کې مو څه زده کړل:

-

درې هغه شیزونه چې د ټولو فعالیتونو څخه مو زده کړل

-

دوه هغه شیزونه چې تاسو ته جالب وو

-

یو هغه شی چې تر اوسه یې په اړه پوښتنه لرئ

مور ، پلار او ښوونکی به نورو اضافي پوښتنو ته ځواب ورکړي

**د ارزونې معیار**

- د هېوادونو یا براعظمونو په پېژندلو کې دقت
- انتقادي فکر، چې د هېوادونو یا کلتورونو په پرتله کولو کې ښودل شوی
- د نړیوال نندارتون د انتخاب په موضوع کې د خلاقیت ښودل
- د متقابل کلتورونو د مرستو څرګنده پوهه او مثالونه
- د تنوع، څو کلتوریزم او نړیوال یووالي ستاینه

د غني کولو لپاره اضافي فعالیتونه

- زده کوونکي کولی شي چې لاندې فعالیت ترسره کړي چې د وارد شوو توکو استفاده څنګه وارد کوونکی هېواد تغیرولی شي.
- زده کوونکي دې د خپل ګاونډي، ملګري یا خپلوان کور ته ورشي او د هغه خوړو د ترکیب غوښتنه دې ترې وکړي چې معمولاً په هغه کور کې جوړېږي.
- زده کوونکي به بیا هغه ترکیب ولولي او په دې اړه به فکر وکړي د هغه توکو په نظر کې نیولو سره چې د دوی په پخلنځي کې موندل کېږي کوم شیان پکې اضافه کولی یا تغیرولی شي.
- زده کوونکي به دا پخلی د یو مشر کس په مرسته سره برابر کړي.
- بحث: زیات خوراکونه د نورو کلتورونو څخه را پور شوي، مګر د خوړو خوند یو د بل سره فرق کوي ځکه چې هغه عنصرونه چې په هېوادونو کې موجود دي، فرق کوي. یوه بېلګه یې مکروني

ده چې په چين کې رامنځ ته شوې، خو په ډېرو هېوادونو کې منل شوې او په ټوله نړۍ یې د ډېر اصل خوراک ځای نیولی. په ځانګړې توګه په اټالیاوي خوراک کې.

- زده کوونکی کولی شي د خپل ټاکل شويو هېوادونو د جغرافيايي ځانګړتياوو په پېژندلو سره اطلس په سيندونو ، سمندرونو، غرونو او دښتو سره پراخ کړي.


## د ساده کولو لپاره اصلاح

- کولی شي فعالیتونه تر ګاونډی هېوادونو پورې محدود کړي
- فعالیتونه د هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ په پوهېدو او په ټولګي کې د توکو پوسټرونو رامنځته کولو پورې محدود کېدای شي کوم چې له نورو هېوادونو څخه راځي.

ضميمه




سرچينه: https://www.printablee.com/post_printable-world-map-not-labeled_295079/




سرچینه: [https://www.worldometers.info/world-map/](https://www.worldometers.info/world-map/)